درېيمه کچه

# د زيبرا پټۍ خنګه پيدا شوې



**ليکوال:** جاکو جاکوبز
**انځورګر:** سټيفن والاس

THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire

Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .



ډېر وختونه پخوا، کله چې د زېبرا پوټکی لا هم سپین و، یوه ناکاره وچکالي راغله. په میاشتو میاشتو یو ځاځکی باران هم و نه شو. واښه مړژواندي شول، ونې شاړې شوې او سیندونه یو په یو وچ شول.
ښکره وره هوسۍ، غاښور سرکوزی او زېبرا اړ شول چې د اوبو په لټه کې ډېر اوږده مزلونه وکړي.



یو سهار کله چې ښکره وره هوسۍ د اوبه د څښاک یواځینۍ چینې ته ورسېده، هغه له قاره ډک یو غږ واورېدو چې ویل یې، "له مخې لرې شه! ځغله! که نه نو سرونه به ورغړي! دا یوه بابون بیزو (سترې بیزو چې غټې داړې لري) د اوبه د څښلو چینه ده! " د ښکره ورې هوسۍ سترګې پراخه شوې. بابون بیزو چینې ته څېرمه په یو ګټ باندې ناست و چې په خپل بل کړي اور یې کیلې پخولې. "خو زه هم ډېره تږې یم، زما ژبه داسې ده لکه وچه غوښه،" ښکرورې هوسۍ وویل. "زه به اوبه چېرته پیدا کوم؟"

بابون بیزو وغوربږد. ”دا زما ستونزه نه ده! ځغله! یا که نه نو سرونه به ورغړي! دا د بابون د اوبو څښلو چینه ده.“ د ښکره ورې هوسۍ نظر د بابون په اوږدو غاښونو ولګېد او وډار شوه.
هغه وګرځېده او په منډه ولاړه.



شېبه وروسته، س غاښور رکوزی په منډه منډه راغلو. خو څنګه چې هغه خپل سر کښته کړ چې د اوبو ګوټ وکړي، هغه له قاره ډک یو غږ واورېد، "له مخې لېرې شه! ځلغه! یا که نه نو سرونه به ورغړي! دا د بابون د اوبو څښلو چینه ده!" حیران سرکوزي مخ ورواړولو. څه ګوري چې بابون بېزو د اوبو چینې ته څېرمه ګټ باندې ناست دی او خپلې کېلې پخوي.



”خو زه ډېر تږی یم، داسې احساس کوم لکه خاورې چې مې خوړلې وي،“ غاښور سرکوي وویل. “”زه به چېرته اوبه پیدا کوم؟“ بابون بیزو وغورېدو. ”دا زما ستونزه نه ده! ځغله! دا د بابون بیزو د اوبو ښخلو چینه ده.“ غاښور سرکوزي لومړی د مقاومت هڅه وکړه خو کله چې هغه د بابون بیزو اوږده غاښونه ولیدل، هغه وډار شو. هغه بېرته وګرځېد او په منډه ولاړ، په داسې حال کې چې لکېږي جنډه نیولې وه.



لږه شېبه وروسته زیبرا د اوبو څښلو چینې ته راغلو. مخکې له دې چې هغه د اوبو ګوټ وکړي، هغه له قاره ډک یو غږ واورېد. ""له مخې لرې شه! ځغله! یا که نه نو سرونه به ورغړي! دا د بابون بیزو د اوبو څښلو چینه ده! " زیبرا وشنېدو او پاس یې وکتل. څه ګوري چې بابون بیزو په یوه ګټ ناست دی خپلې کېلې پخوي.



خو زه ډېر تږی یم، داسې احساسوم ګوندې ژبه مې تېره شپه له خولې بهر وتلې وي، ” زېبرا وویل. “”زه به چېرته اوبو پسې ګرځم؟ ”دا زما ستونزه نه ده! ځغله! دا د بابون بیزو د اوبو ځښلو چینه ده.“ بابون بیزو خپل اوږده غاښونه ښکاره کړل. زېبرا و نه ډار شو. په ځمکه د پښو په ترپولو سره یې په بابون بیزو برید وکړ. هغه دومره غوسه و چې هغه د بابون په لګېدلي اورکې په منډه تېر شو. بځري او لوګي اوکبلې په هوا کې والوتل.



بابون بیزو د تېښتې هڅه وکړه، خو وخت تېر و. زېبرا هغه دومره سخت په لغته وواهه چې هغه په هوا کې والوتلو. ""اوف! " بابون بیزو چیغه کړه. د هغه کوناټې په اور سوځېدلې ګټې ولګېد. ګټې دومره تود و چې د بابون بیزو وېښتان یې وسېځل. له هماغه ورځې راهیسې، د بابون په کوناټو بیا وېښتان را و نه ختل.



او نه هم د زیبرا پوټکی بیا تک سپین شوی دی.
د بابون بیزو  اور د زیبرا پوټکی وسوځولو.



ثاروو اوس کولای شو چې د اوبو چینه کې اوبه وڅښي. او هر سهار، کله چې هغوی به د اوبو څښلو ته راتلل، ښکره ورې هوسۍ، غاښور سرکوزي او زیبرا به سندره زمزمه کوله، ”راځئ خپل ستوني لوند کړئ په داسې حال کې چې تاسې قدم وهئ، دا د هر چا د اوبو څښلو چینه ده!“

## لاربښودونکې پوښتنې

1. آیا تاسې له هغه څه سره موافقه لرئ چې بابون بیزو یې کوي؟ ولې یا ولې نه؟
2. د دې کیسې له مخې، د زېبرا پټۍ څنګه پیدا شوې؟
3. آیا نن په نړۍ کې د بابون بیزو په څېر خلک شته دی؟ آیا تاسې په ذهن کې کومه بېلګه لرئ؟ خلک له داسې چلند کولو څخه د منعه کولو لپاره څه کېدای شي؟
4. آیا تاسې له هغه طریقې سره موافق یاست څنګه چې زېبرا ستونزې ته رسېدنه وکړه؟ که تاسې په کیسه کې د حیواناتو له جملې څخه وئ تاسې به ستونزې ته څنګه رسېدنه کړې وای؟
5. آیا تاسې په خپله سیمه کې د وچکالۍ په اړه اورېدلي یا مو لیدلې ده؟ وچکالۍ څه ډول اغېزې درلودلې؟